# سبا

**مکی سورة دی ۵۴ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١

**ټولې ثناوې او صفات( محاسن او محامد) د الله تعالی ذات ته ځانګړې دی، هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات او موجودات يې د مالکيت او سلطنت په قلمرو کې شامل دی، او د آخرت ټولې ثناوی او صفات هم يوازې د هغه لپاره دی، او هغه پوه او حکيم ذات دی.**

يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا
يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ٢

**ښه پوه او خبر دی په ټولو هغو شيانو چې په ځمکه ورننوزی، څه چې له ځمکې راوځی، څه چې له آسمانه راکوزيږی او څه چې پورته ورخيژی، او( الله تعالی) مهربان او ښښونکی ذات دی.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ
عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣

**او کافران وايی: په مونږ قيامت نه راځی، ورته ووايه: هو- زما دې پخپل رب قسم وی چې هرومرو دربانديې راتلونکی دی. په هغه عالم الغيب رب قسم چې( له علم محيط څخه يې) په آسمانونو او ځمکه کې هيڅ کوم لوی يا وړوکی شی، يا يوه ذره يا له ذرې نه هم کوچنی شی پټ او غايب نه دی،بلکه( هر څه) په يوه روښانه کتاب( لوح محفوظ) کې ثبت دی.**

لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم
مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤

( هو قيامت هرومرو راځی ترڅو الله تعالی) نیک عملو مؤمنانو ته اجر ورکړی. بیشکه چې هغوی د مغفرت او عزتمند رزق مستحق دی.

وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ
أَلِيمٞ ٥

او د هغو کسانو لپاره دردوونکی عذاب تیار شوی، چې زمونږ د آیتونو( د تکذیب او انکار لپاره) هلې ځلې کوی او گومان یې دا دی چې مونږ به بې وسه کړی( او زمونږ د قدرت له ساحې به ووځی).

وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلۡحَقَّ
وَيَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٦

او هغه کسان چې پوهه او معرفت ورکړی شوی پوهیږی چې تاته ستا د رب له لوری نازل شوی( قرآن) په حقه دی او د برلاسی او ستایل شوی ذات( الله تعالی) لوری ته لارښوونه کوی.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ
إِنَّكُمۡ لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍ ٧

او کافران( د تعجب او ملنډو په ډول خلکو ته) وایی: آیا هغه سړی در وپیژنو چې تاسو ته خبر درکوی، کله چې تاسو( له مرگ نه وروسته) ټوټه ټوټه او له خاورو سره خاورې شی، نو بیا به بیرته راژوندی کیږی.

أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي
ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ٨

(حیران یو چې دی) په الله تعالی دروغ تړی او که لیونی شویدی؟( الله تعالی په تردید سره وفرمایل: پیغمبر نه دروغ ویلی او نه لیونی دی) بلکه هغه کسان چې په آخرت ایمان نه لری،(هلته به) په عذاب اخته او(په دنیاکې) په لیرې گمراهۍ کې پریوتی دی.

أَفَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِن
نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ إِنَّ
فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾

آیا هغوی،آسمانونو او ځمکې او پخپل شاوخوا محیط کې(موجوداتو او مخلوقاتو) ته نه گوری( چې همدغه خدای چې د هستی د لوی جهان او کائناتو خالق دی، د مړو په بیرته راژوندی کیدو هم پوره طاقت او قدرت لری). که مونږ وغواړو دوی به په ځمکه ورننه باسو، او یا به وربانديې له آسمانه یوه ټوټه راوغورځوو،( او دوی به وربانديې تباه کړو. بیشکه چې د کائناتو او موجوداتو په باب په تعقل او تفکر کې) د هر رجوع کوونکی لپاره( د الله تعالی د کامل قدرت) ډیر ښه دلایل پراته دی.

۞ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ
ٱلْحَدِيدَ ﴿١٠﴾

او مونږ داؤد ته( له نبوت او سلطنت نه علاوه) له خپل فضل نه لویه برخه ورکړې وه،( کله چې به په صحرا کې د ده په خوږ آواز د الله تعالی د تهلیل او تسبیح ازانگې په فضا کې خپرې وې، مونږ به امر وکړ چې) ای غرونو او مارغانو! تاسو هم (په خوږ او زړه راکښونکی آواز سره د الهی تسبیحاتو په تکرار کې) له داؤد سره هم غږی شئ. او اوسپنه مو هم د هغه لپاره( بې له اوره) نرمه کړه( چې داؤد علیه السلام په نړۍ کې د اوسپنې د ذوب او زغرو او نورو اوسپنیزو سامان آلاتو مخترع و).

أَنِ ٱعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِى ٱلسَّرْدِ ۖ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا
تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾

( ورته مو لارښوونه وکړه چې) پراخې زغرې جوړې کړه او کړۍ یې په پوره نظم او ترتیب سره برابرې او ونښلوه، او ( د دغو صناعتی چارو د پرمخ بیولو په ځنگ کې د خپل رب شکر اداء کوه او) صالحو او نیکو اعمالو ته هم خاصه پاملرنه وکړه، بیشکه چې زه ستاسو د کړنو لیدونکی( او څارونکی) یم.

وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ
ٱلْقِطْرِ ۖ وَمِنَ ٱلْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَمَن يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ
أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٢﴾

**او د سليمان لپاره مو هوا ( مسخر او تابع کړی وه) چې سهار مهال به يې( تخت له شام نه يمن ته د يوې مياشتې فاصله( په څو ساعتو کې وهله) او مابښام به يې هم ورته همدغه د يوی مياشتې د سفر فاصله ( ساعتونو ته) رالنډوله. او د هغه لپاره مو د ويلې شويو مسو چينه روانه کړه، او د پيريانو يوه ډله هم د رب په امر د هغه د خدمت لپاره ګومارل شوې وه، او که به کوم يو تن پکې زمونږ له امر نه سر غړاوه په سوزونکی عذاب مو سزا ورکوله.**

يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ وَقُدُورٍ
رَّاسِيَٰتٍ ۚ ٱعْمَلُوٓا۟ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكْرًا ۚ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾

**( جنياتو) به د سليمان د لاربښوونو په رڼا کې لوړې، لوړې ماڼۍ او جوماتونه، ډول ډول( د منظرو او غير ذيروح شيانو) تصويرونه، تالاوونو ته ورته لګنونه او ثابت او نه خوځيدونکی درانه( او په نغريو پراته) ديګونه جوړول.( او ورته مو وويل چې) ای د داؤد کورنۍ! د شکرانې په ډول( د حق په اوامرو) عمل وکړئ او( وپوهيږئ چې) زما ډير لږ شمير بندګان( د خوښۍ او هوسايۍ په وخت کې) شکرکوونکی دی( او تاسو هم بايد د هغوی لاره خپله کړئ).**

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ
تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُۥ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ
مَا لَبِثُوا۟ فِى ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿١٤﴾

**خو کله چې مونږ د هغه د مرګ فيصله وکړه( سليمان خپلې امسا ته تکيه وهلی مړ ولاړ و او جنيات د هغه تر څارنې لاندې له يوه کال راهيسې د بيت المقدس په تعميراتی چارو بوخت وو، خو) له يوه لرګی خوړونکی چينجی( ويانې) نه غير چې د سليمان امسا يې خوړله،هيڅوک (د هغه په مرګ نه خبريدل). کله چې سليمان( وفات او) په ځمکه راوغورځيد، پيريانو ته چې( د علم غيب د پوهيدو ادعا يې کوله) ثابته شوه چې که په غيبو پوهيدی( سرو کال به يې) په شاقه او سپکوونکی مزدوری ځانونه نه ستړی کول .**

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ ءَايَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ كُلُوا۟ مِن
رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ١٥

**بيشکه چې د سبا د قوم( د يمن د اوسيدونکو او پاچاهانو د ايمان راوړلو ) لپاره د دوی په( ښکلو،ښيرازو او حاصلخيزو) سيمو کې ښی او کين اړخ ته د باغونو دوه ( ځو ميله اوږدې سلسلې د الله تعالی د قدرت او رحمت) ځرګندې نښې وې.( د الهی استازو په وسيله ورته وويل شول چې) د خپل رب له رزق او روزۍ څخه وخورئ او شکر يې په ځای کړئ، ځکه ډير ښکلې او حاصلخيزه هيواد لرئ او رب مو هم درباندې ډير زيات مهربان دی.**

فَأَعْرَضُوا۟ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ ٱلْعَرِمِ وَبَدَّلْنَٰهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ
ذَوَاتَىْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَىْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ١٦

**خو هغوی( د خپل رب د نعمتونو له شکريی او د خپل پيغمبر له دعوت او احکامو نه) مخ واړاوه،چې بالاخره موورباندې د عرم( تباه کوونکی او بند نړوونکی) سيلاب ور روان کړ( چې د سيمې ټول سمسور او آباد باغونه پکې په خړو اوبو لاهو شول) او د باغونو دواړه سلسلې د ترخو او بې خونده ميوو، او د غزانو په بې ګټې او د بيرو د ځو ونو په يوه شاړه بيديا بدله شوه.**

ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِمَا كَفَرُوا۟ ۖ وَهَلْ نُجَٰزِىٓ إِلَّا ٱلْكَفُورَ ١٧

**دغه( تباه کوونکی سيلاب) د دوی د کفر او نافرمانۍ داسې سزا وه چې له ناشکرو او کافرانو نه غير، بل چاته نه ورکول کيږی.**

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ ٱلْقُرَى ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَٰهِرَةً وَقَدَّرْنَا
فِيهَا ٱلسَّيْرَ ۖ سِيرُوا۟ فِيهَا لَيَالِىَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ١٨

**او مونږ د دوی( اهل سبا) او(شام) ترمنځ مختلفې سيمې او ښارونه چې مونږ ورته برکتونه ورکړی وو، د نورو آبادو ښارونو او سيمو په وسيله سره يو ځای او وصل کړی وو، او د هغو تر منځ ساحه مو مأمونه او مصؤنه کړې وه( او د مسافرو او سياحانو لپاره پکې هرډول تسهيلات برابر وو، او ورته مو ويل:) شپه ورځ د پوره ډاډ او امنيت په فضا کې په دغو سيمو کې تګ راتګ کولی شئ.**

فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ
أَحَادِيثَ وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ
شَكُورٖ ١٩

نو( د الهی نعمتونو په مقابل کې مغرورو او متکبرو خلکو) وویل: ای ربه! زمونږ د سفری پړاوونو او دمه ځایونو ترمنځ فاصلې داسې اوږدې کړه( چې تش لاسی او بې وزله خلک د مشکلاتو له امله له مونږ سره سیاحتی او تجارتی سفرونه ونشی کولی ) او په دې توګه یې( په الهی نعمتونو ناشکری او) پخپلو ځانونو یې ظلم کاوه، چې مونږ هم بالاخره( د راتلونکو نسلونو دعبرت لپاره) د تاریخ سینې ته وسپارل او د دوی جمعیت مو تیت او پرک کړ( او کورنۍ یې یو خوا بل خوا کډه شوې او کیسې یې پاتې شوې) بیشکه چې په دغو داستانونو کې د هر صابر شکر کوونکی لپاره(د عبرت) نښې پرتې دی.

وَلَقَدۡ صَدَّقَ عَلَيۡهِمۡ إِبۡلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقٗا مِّنَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٠

او په دې توګه( د آدم د اولادې د بې لارې کیدو لپاره) د ابلیس هیله پوره شوه، او د مؤمنانو له یوې ډلې نه غیر، ټول( اهل سبا) د شیطان په لومه کې ښکیل شول.

وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيۡهِم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يُؤۡمِنُ بِٱلۡأٓخِرَةِ
مِمَّنۡ هُوَ مِنۡهَا فِي شَكّٖۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ٢١

او په هغوی باندې د ابلیس همدومره زور بر شو( چې په وسوسو او خوږو هیلو یې تیرویستل ) خو زمونږ اراده دا وه چې په آخرت ایمان لرونکی او شک کوونکی سره( په عامه منظر کې) جلا او تفکیک کړو، او بیشکه چې ستا رب په ټولو چارو څارونکی دی.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ
ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا
لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢

(ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه، خپل هغه باطل خدایان چې تاسو یې د الله تعالی په مقابل کې عبادت کوئ راوبلئ (ترڅو مو غوښتنې پوره کړی خو هغوی ستاسو هیڅ دعا نشی قبلولی) ځکه نه په آسمانونو کې ذره واک او قدرت لری او نه په ځمکه کې، نه د ( آسمانونو او ځمکې په ملکیت کې) کومه برخه لری، او نه یې کوم یو له الله تعالی سره( د کائناتو او مخلوقاتو د تخلیق او تدبیر په چارو کې) مرستندوی دی.

وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن
قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

(د الله تعالی حضور هغه لوړ او ارفع مقام دی چې) هیڅوک پکې د هغه د اجازې نه غیر د چا د شفاعت او سفارش جرأت نشی کولی( او اجازه اخستونکی هم یوازې د هغو مستحقینو د شفاعت حق لری چې په حق کې یې د شفاعت امر صادر شی. هغه ورځ به شفاعت کوونکو او د شفاعت امیدوارانو په ډیره بې صبری د الله تعالی امر ته د امید سترګې نیولې وی تر هغه چې د شفاعت د اجازې په صادریدو سره یې) زړونه آرام او مطمئن شی، (او امیدواران به له شفاعت کوونکو نه) وپوښتی چې رب مو څه وویل؟ شفاعت کوونکی به ورته ووایی: د حق فیصله( د شفاعت اجازه) یې وفرمایله او بیشکه چې (الله تعالی)د لوړې مرتبې او اعلی مقام لرونکی ذات دی.

۞ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوْ
إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾

(مشرکانو ته) ووایه: څوک درته له آسمانه او ځمکې روزی درکوی؟( که د عناد له مخې یې ځواب در نه کړ نو ورته) ووایه الله تعالی. (او ووایه) اوس بیشکه له مونږ( مؤمنانو) او ستاسو( مشرکینو) نه یو لوری د هدایت په لاره او بل په څرګنده ګمراهۍ کې روان دی.

قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾

ووایه: نه به له تاسو څخه زمونږ د ګناهونو پوښتنه وشی، او نه به مونږ ستاسو د کړنو له امله مواخذه شو.

قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ وَهُوَ ٱلْفَتَّاحُ
ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾

ووایه چې زمونږ رب به مونږ او تاسو ټول( د قیامت په ورځ) راغونډ کړی او بیا به مو ترمنځ حقه فیصله وکړی، بیشکه چې هغه تر ټولو ښه قضاوت کوونکی دی.

قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَۖ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ٢٧

ووايه هغه هستی ماته راوپيژنئ چې تاسو يې (له الله تعالی سره په ربوبيت کې) شريکان گڼئ( آيا کوم يو يې د خدايي صفات لري؟ بيشکه چې هيڅ يو يې هم د خدايي صفات نه لري) بلکه څواکمن او حکيم قوت خو يوازې او يوازې الله تعالی دی.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢٨

او( ای پيغمبره!) ته مو ټولو بشري پرگنو ته( د ايمان او نيکو کړنو په مقابل کې د اجر او جنت) د زيری ورکوونکی او( د کفر او ناوړو اعمالو په مقابل کی د سزا او عذاب) د اخطار ورکوونکی په حيث استولی او موظف کړی يې، خو زياتره کسان( په دغه واقعيت) پوهه او معرفت نه لري.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٩

او( د ملنډو او مسخرو په ډول وايي) که رښتيا وايی نو د ( قيامت او عذاب) وعده کله رارسيږی؟

قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوۡمٖ لَّا تَسۡتَـٔۡخِرُونَ عَنۡهُ سَاعَةٗ وَلَا تَسۡتَقۡدِمُونَ ٣٠

ورته ووايه ستاسو لپاره ټاکلې ورځ هغه ده چې نه به يوه شيبه وروسته شی، نه مخکې.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ بِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَلَا بِٱلَّذِي بَيۡنَ
يَدَيۡهِۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ
بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ
ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا مُؤۡمِنِينَ ٣١

او کافران وايي: مونږ نه په دې قرآن ايمان لرو او نه له هغه نه په وړاندنيو کتابونو. ( ای پيغمبره!) کاش ته هغه حالت ووينې چې ظالمان د الله تعالی په حضور کې( د محاکمې لپاره ولاړ دی) او هر يو د خپلې گناه او

بدبختۍ پړه په بل اچوی، کمزوری به مستکبرینو ته ووایی: که تاسو( او ستاسو زور او فشار راباندې) نه وی، مونږ به مؤمنان وی.

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ

ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُمۖ بَلۡ كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾

مستکبرین به مستضعفینو ته ووایی: آیا کله چې تاسو ته د الهی هدایت پیغام راورسید، مونږ ترې منع کړی؟( نه هیڅکله مو ستاسو مخه نه ده نیولی) بلکه تاسو پخپله مجرمان واست.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ

وَٱلنَّهَارِ إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ أَن نَّكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجۡعَلَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ وَأَسَرُّواْ

ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ فِيٓ أَعۡنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ

هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٣٣﴾

او مستضعفین به مستکبرینو ته ووایی همدا ستاسې حیلې او چلوټې وې چې شپه ورځ به مو مونږ ته امرونه کول چې باید له الله تعالی نه منکرشو او( په ربوبیت کې ورسره) نور شریکان وټاکو. کله چې دوی عذاب وويني، د پښیمانۍ اوښکې به تویوی خو مونږ به د کافرانو په غاړو کې ځنځیرونه وغورځوو او د جرایمو سره مناسبه سزا به ورکړو.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ

كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾

او هرې سیمې ته چې مونږ اخطار ورکوونکی( پیغمبران) لیږلی، مغرورو او سرمستو عیاشانو ورته ویلی چې مونږ ستاسو په راوړی پیغام کافران یو.

وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او ویل یې چې زمونږ مال اولاد ستاسو نه زیات دی( او همدا، مونږ ته د الله تعالی د خاصې پاملرنې او امتیاز معنی ورکوی) او له عذاب نه به هم مصئون یو.

قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾

**ووایه زما رب هر چاته چې اراده وکړی روزی یې پراخوی او یا وربانديٰ تنګسیا راولی، خو زیاتره خلک( د الله تعالی په مصلحت) نه پوهیږی.**

وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ
وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا۟ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ
ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾

**اومونږ ته د تقرب وسیله، نه ستاسو مال دی نه اولاد.(بلکه ایمان او نیک عمل الهی دربار ته د تقرب اصلی او حقیقی معیار او محک دی)ځوک چې ایمان راوړی او نیک عمله او صالح هم وی( بې له شکه الهی دربار ته مقرب او محترم دی) او دوه چنده اجر او ثواب به ورکړی شی، او( د جنت په هسکو) ماڼیو کې به آرام او مطمئن ژوند ولری.**

وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ
مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾

**او هغه کسان به عذاب ته راکښل شی چې خپلې ټولې هلې ځلې یې زمونږ د آیتونو( تردید او ابطال او له حقې لارې څخه د خلکو بې لارې کولو) ته وقف کړې وې.**

قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ وَمَآ
أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾

**ورته ووایه یقیناً زما رب پخپلو بندګانو کې هر چاته چې وغواړی روزی پراخوی او یا یې وربانديٰ محدودوی، او څه چې تاسو نفقه کویَ( زیات وی که کم) الله تعالی یې درته اجر او عوض درکوی، او هغه تر ټولو ښه روزی ورکوونکی دی.**

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ
يَعۡبُدُونَ ٤٠

او( یاد کړه) هغه ورځ چې الله تعالی به دغه ټول( کافران او مشرکان) احضار کړی او بیا به پرښتو ته ووایی: آیا همدوی وو، چې ستاسو بندګی یې کوله( یعنی تاسو ورته ویلی وو، چې د الله تعالی په ځای ستاسو عبادت وکړی؟)

قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّۖ
أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ ٤١

(پرښتې به) ووایی: سبحان الله، (ته له شرک نه پاک،او واحد لاشریک ذات یې، د دوی د ادعا په خلاف) ته زمونږ یواځینی سرپرست او مرستندوی یې. هغوی زمونږ عبادت نه کاوه بلکه د پیریانو او شیطانانو عبادت یې کاوه او ډیرو یې وربانديْ ایمان راوړی و.

فَٱلۡيَوۡمَ لَا يَمۡلِكُ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٖ نَّفۡعٗا وَلَا ضَرّٗا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ
ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ٤٢

نو( ای کافرانو او مشرکانو!) نن تاسو، یو بل ته، نه څه ګټه رسولی شئ نه زیان( او نه له یو بل نه د کوم مصیبت مخه نیولی شئ) او ظالمانو ته به ووایو: خوند واخلئ له هغه عذابه چې تاسو ترې انکار کاوه.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٞ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمۡ
عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُكُمۡ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٞ مُّفۡتَرٗىۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٤٣

او کله چې( کافرانو)ته زمونږ روښانه آیتونه ولوستل شی وایی: د دې سړی( پیغمبر) یواځینی هدف، د هغو معبودانو له عبادت نه ستاسو منع کول دی چې پلرونو او نیکونو مو د هغو بندګی کوله. او( کافران) دا هم وایی چې دا قرآن جوړ شوی دروغ دی( چې الله تعالی ته منسوب شوی دی). او کافرانو ته چې حق راغی ویې ویل: دا ښکاره جادو او کوډې دی.

وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ٤٤

**مونږ دوی ته داسې کوم کتاب نه دی ورکړی( چې د هغه په اساس قرآن ته د جوړو شویو دروغو نوم ورکړی) او نه مو کوم داسې پیغمبر استولی( چې د هغه د وینا په اتکاء) ستا له نبوت نه انکار وکړی.**

وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَمَا بَلَغُواْ مِعۡشَارَ مَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ فَكَذَّبُواْ رُسُلِيۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ٤٥

**او له دوی نه وړاندنیو خلکو هم( زمونږ آیتونه او پیغمبران) دروغ ګڼل په داسې حال کې چې( ستا قوم د هغه قدرت او ثروت) لسمه برخه هم نه لری، چې مونږ پخوانیو ولسونو ته ورکړی و، خو (کله چې) یې زمونږ رسولان دروغ وګڼل( مونږ هم د هستئ له صفحې لیرې کړل، نو وګوره چې) څنګه و د دوی انکار( او څنګه و زمونږ عذاب)؟**

۞ قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ٤٦

**ورته ووایه، زه تاسو ته صرف په یوه حقیقت نصیحت کوم چې د الله تعالی لپاره یو یو او دوه دوه سره جرګه شئ او بیا ژور فکر وکړئ چې ستاسو د ملګری (محمد چې یو عمر یې ستاسو سره په پاکئ، امانت دارئ او صداقت تیر کړی) کومه خبره د لیونتوب ده. بلکه هغه خو صرف تاسو ته د یوه راروان سخت عذاب اخطار درکوونکی دی.**

قُلۡ مَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٞ ٤٧

**ووایه که څه اجوره او معاوضه درنه غواړم بیرته یې درواخلئ، زما اجر د الله تعالی په عهده دی چې په ټولو چارو ګواه دی.**

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾

ووایه زما رب، چې په ټولو پټو او غیبی حقایقو پوه ذات دی،(په روښانه او قاطعانه دلایلو، د انبیاو زړونو ته د وحې د القاء او آسمانی کتابونو په نزول سره) حق بیانوی( او باطل وربانديٍ له منځه وړی).

قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ ٱلْبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾

ووایه حق (اسلام ) راغی او باطل نه کوم ابتکار کولی شی او نه کوم له منځه تللی شی بیرته راګرځولی شی.

قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِى ۖ وَإِنِ ٱهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِىٓ إِلَىَّ
رَبِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

ووایه که زه بې لارې شوی یم نو د ګمراهۍ زیان مې هم خپل دی او که د هدایت په لاره روان یم نو یوازې د الله تعالی د وحې برکت دی ځکه چې هغه اوریدونکی او( تر ټولو) نږدې ذات دی.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا۟ فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا۟ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾

او د هغه منظر لیدلو ته به ( حیران شې) چې (مشرکان د قیامت په ورځ) ویریدلی او ترهیدلی ولاړ وی( او له عذابه د تیښتې) هیڅ رو ګودر به نه لری، او له نږدې ځایه(د قیامت له محشره به یو یو) را نیول کیږی.

وَقَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

او( په همدغه اضطراری حالت کې به) ووایی چې ایمان مو راوړی( په حق). څنګه کولی شی چې (له قیامت نه تر دنیا پورې) لیرې فاصلې څخه( ایمان ته) لاس رسی پیدا کړی( ځکه د عمل ځای یې له لاسه وتلی دی).

وَقَدْ كَفَرُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ
بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾

دوی خو له دې وړاندې( په دنیوی ژوند کې) له حق نه منکر وو، او په پټو سترګو یې حق ته د ( شعر، جادو، خرافی افسانو او درواغو) ناوړه القاب ورکول.

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿٥٤﴾

**( بالاخره ) د هغوی او( د نیا ته د گرځیدو او ایمان راوړلو) د ارزو او ارمان ترمنځ به یې د جدایی پرده پیدا شی او همدغه کړنلاره لا پخوا د هغوی د هم مسلکو او هم فکرو په حق کې تطبیق شوې وه، ځکه هغوی هم د حق په باب په حیرانوونکی شک او تردید کې پراته وو.**

**«تمت سورة سبا بفضل الله رب العالمین»**

**======================**